# متحده ایالتونو کی د افغان اتباعو په توګه د پناه اخېستنې غوښتنلیک پروسه

د قانون پر بنسټ د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍاداره یا USCIS د هغو افغان پناه اخېستوونکیو غوښتنلیکونو بهیر ته چټک رسیدنه کوي چې د متحدینو د هرکلي برنامه یا OAW پر بنسټ په متحده ایالتونو کې د مشروط اقامت یا پارول اجازه لري. دا کار د دغه برنامه د اصولو د رعایت او در امریکا د ملی امنیت حفاظت مطابق  تر سره کیزی.

که چیرته تاسئ د توکم، مذهب او ملیت له یوې ځانګړې ټولنیزې ډلې سره د تړاو یا سیاسي نظریې له امله په تېر وخت کې آزار او اذیت شوی یاست یا په راتلوونکي کې له ګواښ سره مخ وي او اوسمهال په متحده ایاالتو کې یاست، کوالی شئ د پناغوښتنځ غوښتنلیک وړاندی کړئ. که چېرې په متحده ایالتونو کې د پناه غوښتنه کوئ، باید متحده ایالتونو ته له دننه کیدو وروسته د یو کال په ترڅ د پناه اخېستنې غوښتنلیک وړاندې کړئ.  که ستاسو غوښتنلیک د یو کال نه اوروسته شوی دی، باید وکوالی شئ داسې  شرایط وړاندې کړئ چې ستاسو د پناه اخیستنې د ځنډ لامل وښیئ او یا دا چې شرایطو ته په پام سره په یو معقول زماني پړاو خپل غوښتنلیک ثبت کری وی.

یو استثنایي شرط چې په هغو کې شامل دی خو ور پورې محدود نشي پاتې کیدی، په لومړي کال کې په متحده ایالتونو د مشروط اقامت یا قانوني اقامت ساتل دي. د بېلګې په ډول که تاسی د یو مشروط اقامت درلودونکي کس په توګه خپل  پناه اخېستنې غوښتنلیک د لومری کال په جریان کی وړاندې ندی کړئ  په داسې حال کې چې مشروط اقامت مو هم معتبر وي، کولای شی د پناه اخېستې غوښتنلیک وړاندې کړئ، لیکن باید ثابته کری چه د کیس د یو کلن مهلت څخه د استثنایي شرایطو "فوق العاده شرایطو" وړ واوسئ. که چېرې د خپلې یوې کلنې مشروطې نېټې له انقضاء وروسته د پناه اخېستنې غوښتنلیک وړاندې کړئ، بیاهم کوالی شئ د پناه اخېستنې غوښتنلیک له یو کلن مهلت څخه برخمن شي. البته د دې له په پام کې نیولو پرته چې څه وخت ثبتېږي، د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍاداره یا USCIS ستاسو غوښتنلیک مني. که چېرې د پناه اخېستنې غوښتنلیک د مشروط اقامت له پایته رسیدو وروسته وړاندې کړئ، د پناه اخېستنې افسر له تاسو سره مرکه کوي او شرایطو ته په کتو به دا معلومه کړي چې آیا په یو معقول زماني پړاو کې مو غوښتنلیک ثبت کړی کنه. له همدې امله که چېرې د مشروط اقامت مودې له پایته رسیدو مخکې دوسیه ثبت کړئ، ستاسو په ګټه دی.

د بېلګې په توګه که چېرې د 2022 کال د جنوري له 31 مخې متحده ایالتونو ته دننه شوې یاست، باید د 2023 کال د جنوري له 31 مخکې دپناه اخېستنې اقدام وکړئ مګر دا چې وښیئ چې د دوسیې چمتو کولو یو کلن مهلت وروسته پر استثنایي شرایطو برابر یاستئ.

په داسی حال کې چې ستاسو د مشروط اقامت وخت لاهم معتبر دی، د پناه اخېستنې غوښتنلیک وړاندې کړئ، ښایي په شرایطو یې برابر واوسئ ( فوق العاده شرایط." که چېرې د مشروط اقامت مودې له انقضاء وورسته د پناه اخېستنې غوښتنلیک وړاندې کړئ، که د مشروط اقامت له وروسته په یو معقوله موده کې د پناه اخېستنې غوښتنلیک وړاندې کړئ، کوالی شئ د پناهاخېستنې له یو کلن مهلت څخه برخمن واوسئ.

که له یوکلن مهلت وروسته خپله دوسیه ثبت کړئ، موږ مو غوښتنلیک منو او دا معلومو چې آیا په فوق العاده استثنایي شرایطو باندې برابر یاستئ کنه.

## د پناه اخېستنې ښیګڼې

- که پناه درکړل شوه، کوالی شئ له یو کال وروسته د قانونی دایمي اقامت یاګرین کارټ ته غوښتنه وکړئ، خو په هغه صورت کې چې خپل اقامت مو ساتلی وي.
- ه پنځه کلن دایمي قانوني اقامت وروسته کوالی شئ د تابعیت ترلاسه کولو لپاره د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍاداره یا USCIS تهغوښتنلیک واستوئ.
- که د اصلي پناهغوښتوونکي په توګه د پناهاخېستنې کیس منلی  شي، ښایي د I-730 فورم استولو شرایط وړ وګرځئ چې پر بنسټ یې کوالی شئ د پناه اخېستوونکي/ پناه غوښتوونکی uscis.gov/i-730، د ژوند ملګري او له 21 کلنۍ کم عمره اولادونو د یوځای کیدی غوښتنلیک واستئ.

## د پناه اخېستنې لپاره څه ډول اقدام وکړو؟

د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍاداره یا USCIS  کې I-589، یا د پناهاخېستنې او له اخراج څخه د مخنیوي uscis.gov/i-589 فورم ثبت کړئ.

U.S. Citizenship
and Immigration
Services

Rev. 09/09/2022
Pashto

## پناه اخېستنې ته چټکه رسیدنه

که چېرې مو I-589 فورم استولی وي او له لاندې کټګوریو څخه په یوې هغې کې شامل یاستې د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍاداره یا USCIS د دولتي بودجې تمدید او د بېړنیو مرستو وړاندې کولو قانون د 2502(c) برخې مطابق ستاسو د فورم پراوونه بشپړولو بهیر چټکوي.

### 1 کټګوری

- که افغان تبعه یا بې تابعیته یاستئ او په دې وروستیو کې مو په افغانستان کې ژوند کړی وي؛
- د 2021 کال د جولای له 30 نېټې څخه د 2022 کال د سپټمبر تر 30 پورې مو د متحده ایالتونو مشروط اقامت یا پارول شوی یاست؛
- د مشروط اقامت یا پارول نېټه مو پایته ده رسېدلې.

### 2 کټګوری

- افغان یا بې تابعیه کس یاستئ او په دې وروستیو کې مو افغانستان کې ژوند کړی؛
- مشروط اقامت یا پارول مو د 2022 کال د سپټمبر له 30 وروسته وارکړل شوی دی؛
- د مشروط اقامت یا پارول اجازه له تانه بیرته اخیستل شوی نوی،
- د هغه کس میرمن/ میړه یاستئ چې په پورتنی 1کټګوری کې شامل دی؛ او تاسو د پلار/ مور یا داسې کس تر قانوني مراقبت لاندې یاستئ چې په پورتنی 1 کټګوری‌کې شامل او فقره 6U.S.C. 279(g)(2) مطابق یو بې سرپرسته کس تثبیت شوي یاست.

## په چټکئ سره پړاونو بشپړولو لپاره I-589 فورم ډک کولو لارښوونې

د I-589 فورم له ډک کولو مخکې لاندې څلور پړاوونه بشپړ کړئ:

- د خط پاکټ په "**چېرته یې باید واستوو**" او یا "**ځانګړې لارښوونې**" برخه کې د شته لارښونو پر بنسټ اړونده پته د uscis.gov/i-589 انټرنیټي پاڼې په I-589 فورم کې د پاکټ پر مخ ولیکئ؛
- د متحدانو هرکلي عملیاتو د پام وړ کلمې "**Attn: OAW**" پر پاکټ ولیکئ.
- د I-589 فورم په 1 پاڼه کې A.I. ،I-589 برخه.، 19c پوښتنه، **خپل اوسنی اقامت نوعیت د مشروط اقامت نوعیت یا Parole** په برخه کېولیکئ. د بېلګې په توګه، د متحدینو پناهاخېستنې اقامت سره "OAR" متحده ایالتونو ته دننه شوي یاست، د مشروط اقامت نوعیت برخه کې دمتحدانو پناغوښتنې عملیاتو نوعیت "OAR" ولیکئ. او
- **د دننه کیدو وروسته نېټه** مو د **نېټې برخه کې** د I-589 فورم 1 مخ، A.I. برخه، 19 پوښتنه ولیکئ.

که I-589 فورم په سمه توګه بشپړ کړئ او موږ دا تشخیص کړو چې د 1 یا 2 کټګوری شرایطو باندې برابر یاستئ، د I-589 فورم مو په چټکۍ سره دړاوونو بشپړولو ته استوو.

د هغه بې تابعیته کسانو لپاره چې د دولتي بودجې تمدید او بیړنیو مرستو وړاندې کولو مقررې تر پوښښ لاندې نراځي، د مثتې پناهاخېستنې غوښتنلیک په uscis.gov/asylum ویب سایټ کې د اصولو په چوکاټ کې د پناهاخېستنې مرکو په طرحه کې لومړیتوب بندي کوو. د پناهاخېستنې دفترونو رئیسان بنایي د هرې قضیې مطابق د پناهاخېستنې لپاره بیړنې غوښتنلک وپلټي، له دې ډلې کله چې ستاسو د کورنۍ یو غړی په یو هېواد کې له خطر سره مخ وي او یا د ځوروني ادعا کوي، په مهربانۍ سره د هر ډول بیړنیو مرکو طرحې لپاره غوښتنلیک په لیکلي بڼه د پناهاخېستنې هغه دفتر ته چې ستاسو دوسیو ته د رسیدنې صلاحیت لري، واستوئ. د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍاداره یا USCIS کې زموږ د خدماتو او موقعیتموندنې (egov.uscis.gov/office-locator) پاڼې ته مراجعه وکړئ.

## مهمه یادونه

د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍاداره یا USCIS څخه د اطلاعیې او مهمو اسنادو له ترلاسه کولو څخه د ډاډمنتیا اود ځند په حالت کې غوښتنلیکونو، عریضو او د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ دفتر د مکتوبونو ترلاسه کولو لپاره په عمومي توګه هر ځل د ځای له بدلون وروسته د 10 ورځو په ترڅ کې خپله نوې پته د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍاداره یا USCIS ته ورکړئ، حتی که چېرې په لنډمهاله توګه هم خپل ځای بدلوئ. د ریپورټ ورکووني ځرنګوالي په اړه له uscis.gov/ar-11 ویب سایټ څخه لیدنه وکړئ. څو په آنالین بڼه د پتې بدلون غوښتنلیک استولو بهیر زده کړئ. که چېرې د متحدانو هرکلي عملیاتو (OAW) اړوند د پتې بدلون غوښتنلیک په اړه پوښتنه لرئ، په مهربانۍ سره nbcafghancoa@uscis.dhs.gov پته د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ دفتر (USCIS) ته بریښنالیک واستوئ.

## د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ اداره یا USCIS سرچینې

- د افغانانو لپاره معلومات - uscis.gov/allieswelcome
- د پناه اخېستونکیو لپاره معلومات - uscis.gov/asylum
- د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ دفتر (USCIS) جزوه - له کډوالو او پناهاخېستوونکیو هرکلی - uscis.gov/tools/settling-us